© rasailojaraid.com


# د صاحبزاده مولانا حامد الحق د دستار بندۍ په موقع
# د حضرت شیخ الحدیث رحمة الله علیه یاد

اے زمونږ د زړه قراره چرته یېئ — خنده رویه گلعذاره چرته یېئ

څه دِ پټ دے نن په څومره حجابونو — د نبی د باغ مالیاره چرته یېئ

گلستان دِ په گلونو بیا سمسور دے — نازنینه حسن داره چرته یېئ

نن مسند دِ د حدیث په انتظار دے — د محراب منبر وقاره چرته یېئ

لږ خو راشه تماشا دِ د باغ اوکړه — سر کړه پورته د مزاره چرته یېئ

فضلاء د اجازت په طمع ناست دی — د اسناد دی امیدواره چرته یېئ

په دستار د خپل نمسی باندِ لاس کښېږده — نن فاضل شو جلوه داره چرته یېئ

اے فانی د دعا کانو ځائے مو روک دے
صبر غواړه د غفاره چرته یېئ

پیشکش د مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی
د زروبی کلی

© rasailojaraid.com